Maahanmuuttovirasto
Migrationsverket
Finnish Immigration Service

**اصلاح: د یوه پنا غوښتونکي کارۍ اجازه هم د 1.6.2019 نده تمامه شوی، ځکه چې نوی قانون نافذ شوی دي**

دپناغوښتونکی کاری اجازه کی د مهاجرو دفتر د تغیر له وجی بدلون راغلي دی د 1.6.2019 تاریخ نه راوروسته. دقانون بدلون کی پیچلتیا شته: دقانون تشریح سخته وه او ددې اړتیا پیښه شوه چې د نوی قانون په باره کی دعدی نه زیات بحث د کورنیو چارو وزارت سره ددوی په دفترو کې وکړو. مونږ زاړه معلومات د نیټ نه لیری یا پاک کړی دی. دا معلومات مو ځکه لیری کړل چې مشتری یا کاریګر او د کارمشر نور ورباندی غلت نشی.

دکار اجازه ددی وجې چې د مهاجرو قانون کی بدلون راغلی دی او نوی قانون اجاد شوی دی، د یوه کاریګر لپاره هم د 1.6.2019 نه تمامیږی (یانی کاری اجازه یې دوام مومي)

موږ په عجیزنه توګه ددی بخښنه غواړو، چې موږ ونشول کولی چې په روښانه ډول په خپل وخت کی تاسو ته احوال درکړو.

**د کار اجازه د 1.6.2019 نه راوروسته**

**د 1.6.2019 مخکی د پناغوښتونکو په باره کی:**

- که ستاسو دکار اجازه تر 31.5.2019 پوری دوام کړی وی نودغه اجازه تر هغه پوری دوام لری تر څو چې ستاسو د ملک نه د اخراج امر نوی راغلی. یانی تر هغه پوری کار کولی شي تر څو چې د ملک نه ایستل کیږي.
- که ستاسو دکار اجازه تر 31.5.2019 پوری دوام وکړی او تاسو ته د ملک نه د اخراج امر د 1.6 نه مخکی راغلی وی، نو ستاسو کاری اجازه همغه وخت کی لغوه کیږی، کله چې دغه امر د تطبیق وړ ګرځېدلی وی.
- که تاسو دکار اجازه د 31.5 پوری نه لرله، نو ستاسو د کار اجازه 3 میاشتی د دپناغوښتلو د درخواست نه وروسته شروع کیږی په هغه صورت کی که تاسو د سفر کتابچه ولری. که دسفر کتابچه مو نوی نو دغه وخت بیا 6 میاشتی دي.
- ستاسو د کار اجازه هلته تمامیږی چې په کوم دلیل سره قبولي واخلی. ددغه نه وروسته ستاسو کاری اجازه ستاسو په قبولۍ پوری اړه لری.

**د 1.6.2019 پورې یا دهغه نه وروسته د پناغوښتونکو په باره کې:**

- دکار اجازه مو په درو 3 میاشتو کې دپنا غوښتلو د درخواست ورکولو نه شروع کیږي، په هغه صورت کې که تاسو د سفر کتابچه ولرئ. که دسفر کتابچه مو نوی نو دغه وخت بیا 6 میاشتې دي.
- که د پناغوښتنلیک مو دوباره نوی کړی وی نو دغه وختو له سره شروع کیږي یا که ستاسو د کار موده په درو 3 یا شپږو 6 میاشو کې خلاصیږي.
- ستاسو کاری اجازه همغه وخت کی لغوه کیږي، کله چې دملک نه داخراج امر مو دقانون سره سم د تطبیق وړ وګرځي.
- ستاسو د کار اجازه هلته تمامیږي کله مو چې په کوم دلیل سره قبولې تر لاسه کړه. ددغه نه وروسته ستاسو کاری اجازه ستاسو په قبولی پورې اړه لري.

**پناغوښتونکی او دکارمشر د کار اجازې په باره کی معلومات د کومه ځایه تر لاسه کولی شي؟**

**پناغوښتونکی:**

- که ځواب مو مضبت وو یانې قبولی درته راغلی وی نو دکار اجازی په باره کی مو معلومات په ځواب کی یا دقبولی په کارت کی لیکل شوي دي.
- که ځواب مو منفی وو، نو دکاری اجازی معلومات یې په ځواب کی درته ویلي دي
- ځواب په خپله مورنی ژبه درکولی کیږی یا په هغه ژبه چې پرې پوهیږی. دضرورت په وخت کی ترجومان هم درته راغوښتل کیږی.
- که تر اوسه مو ځواب نوی تر لاسه کړی، نو ستاسو کارمشر کولي شي چې ستاسو دکاراجازی په باره کي معلومات په ټلیفون تر لاسه کړی. چې د 9-12 پورې زنګ وهلی شي. که ځواب مو مضبت وو نو خپل د قبولۍ کارت مو د کارمشر ته ښکاره کړئ.

**دکار مشر:**

- کارمشر کولي شي چې ستاسو دکاری اجازی په باره کي معلومات په ټلیفون تر لاسه کړی. چې د 9-12 پورې زنګ وهلی شي.